# د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډې کمیټې د حقوقي شخصیت، دندو، فعالیت ډولونو او صلاحیتونو د بدلون په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر فرمان

د افغانستان د اساسي قانون د ۷ مادې، د ۶۴ مادې د ۲۰ بند او د ۷۵ مادې د ۳ بند د احکامو پر بنسټ، د نړیوالو ژمنو په رعایت کولو او د اداري فساد پر وړاندې د اغیزمنې مبارزې په موخه افغانستان کې د میشتو دولتي او غیر دولتي نهادونو د فعالیتونو د څارنې او ارزونې د پیاوړتیا په پام کې نیولو سره لاندیني مراتب منظوروم:

**لومړۍ ماده:**

د " اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکې او ګډې کمیټې " د فعالیتونو ګټورتیا ته په پاملرنې سره له دې وروسته دغه نهاد په خپلواکه توګه او یو محدود تشکیل سره فعالیت کوي.

**دویمه ماده:**

1. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډه کمیټه له شپږو داخلي او بهرنیو متخصصینو څخه جوړه ده چې داخلي غړي یې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشر له خوا او بهرني غړي یې د اداري فساد سره د مبارزې په چارو کې د نړیوالې ټولنې د معتبرو نهادونو له خوا معرفي او د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشریز مقام په واسطه د منظوریدو له مخې د دوه کالو لپاره د دندو ټاکلې لایحې، صلاحیتونو او تشکیلاتي جوړښت سره تعینیږي چې دې فرمان سره ضمیمه شوې.
2. د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې د دارالانشا رئیس د کمیټې په وړاندیز او د افغانستان د اسلامي جموریت د ولسمشر په منظورۍ ګمارل کیږي.

**دریمه ماده:**

ټولې دولتي ادارې او په افغانستان کې میشت نړیوال نهادونه د هر اړخیزه همکارۍ ترڅنګ مکلف دي چې ټول هغه مالومات او آمار د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې په واک کې ورکړي چې د ارزونې لپاره اړین دي، د یادې کمیټې سپارښتنې پلې کړي او د پلي کیدو د څرنګوالي په اړه یې په منظمه توګه د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې ته رپورټ ورکړي.

**څلورمه ماده:**

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې لپاره اړینه بودجه د نړیوالې ټولنې له خوا تأمینیږي.

**پنځمه ماده:**

ددې فرمان په نافذیدو سره پدې اړه نور ټول فرمانونه لغوه کیږي

محمد اشرف غني
د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې د دندو لایحه، صلاحیتونه، د فعالیت ډول او تشکیلاتي جوړښت

مبنی

لومړۍ ماده:

دغه سند د ولسمشر له خوا د ۲۸/۶/۱۳۹۵ نیټې د (۱۱۵) ګڼه فرمان په اساس د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه او ګډې کمیټې (چې له دې وروسته په دې سند کې د کمیټې په نوم یادیږي) د اجراآتو او فعالیتونو د تنظیمولو په موخه وضع شوی.

د کمیټې د غړو د ګمارنې طریقه

دویمه ماده:

د افغانستان اسلامي جمهوریت په ادارو او افغانستان کې د میشتو نړیوالو ادارو کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د فعالیتونو او لیو د غوره، ګټورې او دقیقې څارونې او ارزونې په موخه د کمیټې غړي په لاندې ډول ټاکل کیږي،

1. درې تنه داخلي متخصصین، چې لوړې زدکړې ولري او همدارنګه په رسمي دولتي او معتبرو غیر دولتي ادارو کې له اداري فساد سره د مبارزې په اړونده چارو کې کاري تجربه ولري او د ښه سلوک درلودونکي وي، د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشر له خوا تعینیږي.
2. درې تنه بهرني متخصصین چې د څارنې او ارزونې او اداري فساد سره د مبارزې په چارو کې او همدارنګه مالي او اقتصادي چارو کې مسلکي زدکړې، تخصص او پوره کاري تجربه ولري د نړیوالې ټولنې له خوا په معرفي کیدو او د افغانستان اسلامي دولت د ولسمشر له خوا د منظورۍ له لارې تعینیږي.

**د کمیټې ریاست**

**دریمه ماده:**

د کمیټې ریاست دوره اي دی او رئیس د اړونده طرزالعمل له مخې د لومړیو شپږو میاشتو لپاره د کمیټې دداخلو غړو له منځه او روستیو شپږو میاشتو لپاره د بهرنیو غړو له منځه د شفافو، پټو او نیغو ټاکنو له لارې ټاکل کیږي.

**د غړو د دندې د مودې تمدید**

**څلورمه ماده:**

د لزوم په صورت کې، د غړو د کار موده د ولسمشر له خوا د اجراآتو د میزان په کتلو سره او همدارنګه د بهرنیو غړو په اړه د نړیوالې ټولنې د مشورې له مخې د اوږدیدو وړ ده.

**دندې او صلاحیتونه**

**پنځمه ماده:**

کمیټه لاندې دندې او صلاحیتونه لري:

1. د دولتي ادارو او همدارنګه افغانستان کې د میشتو نړیوالو ادارو له خوا د اداري فساد سره د مبارزې فعالیتونو څارنه او ارزونه
2. د افغانستان دولتي ادارو او نړیوالو نهادونو ته د اصلاحاتو رامنځته کولو، روڼتیا او حساب ورکونې د تآمینولو په موخه د سپارښتنو صادرول
3. د نړیوالې ټولنې په مرستو کې د اغیزمنتیا، روڼتیا او حساب ورکونې څارنه او ارزونه
4. د سپارښتنو د پلي کیدا څارنه
5. هیواد کې د اداري فساد پر وړاندې مبارزې د وضعیت او د سپارښتنو د پلي کیدا په اړه د افغانستان ولسمشر، ملي شورا، نړیوالې ټولنې او همدارنګه د مطبوعاتي کنفرانس له لارې د افغانستان خلکو ته د ربعه وارو رپوټونو وړاندې کول.

**ناستې**

**اومه ماده:**

د کمیټې ناستې په لاندې ډول دایریږي:

1 - د طرزالعمل سره سم په ربعواره توګه
2 - د ارتباطي وسایلو له لارې لکه ویډیوي کنفرانس او داسې نور

**ځواب ورکونه**

**اتمه ماده:**

کمیټه د خپلې خپلواکۍ د ساتنې په موخه په اجراآتو کې د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر او نړیوالې ټولنې ته مسؤله او رپوټ ورکونکې ده او کولی شي چې له نورو مراجعو څخه نظریات او وړاندیزونه چې د کار پرمخ بیولو کې ګټور وي استفاده وکړي.

**التزام**

**نهمه ماده:**

کمیټه اړ ده چې د خپلو سپارل شویو دندو د ترسره کولو په مهال د هیواد اساسي قانون او نور نافذه قوانین رعایت کړي.

**د اجراآتو طریقه**

**پنځلسمه ماده:**

مرکز د اجرایي چارو د تنظیم، کاري جلسو پرمخ بیولو او نورو اړونده چارو په موخه طرزالعمل ترتیب او تصویبوي.